
ورکه
آسیا
Ketabton.com
ناول
لیکوال : سیدادریس سادات
ډیزاین او کمپوز: امجد پاچا
S a i d A d r e e s S a d a t

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بسم الله الرحمن الرحیم

**د کتاب پیژندنه!**

---

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم . | ورکه اسیه ( ناول ) |
| لیــکــوال . | سید ادریس (سادات) |
| مرســتــه . | عابـــــــده (شینوارۍ) |
| کال . | ۲۰۲۳ |
| د لیکوال شماره. | 0731363201 |
| ټلګرام چینل . | https://t.me/sadatketabtoon |
| یوټیوب چینل . | https://youtu.be/BHsqoWKvIqU |
| واټساپ ګروپ . | https://chat.whatsapp.com/KXxowf0dlHRDKR |

که چیرې تاسې هم خپلو ناولونو او کتابونو ته ډیزاین ورکوی، یا هم د ناول لیکلو په اړه مشورې ته اړتیا لری،

ماسره په لاندې واټساپ نمبر اړیکه ونیسی.

**0731363201**

(c) ketabton.com: The Digital Library


# ډالۍ

ټولو هغو ملګرو ته دې دا ناول ډالۍ وي، چې زموږ تشویق په یوټیوب کې هم کوي، که چیرې تاسې د ښکلو کیسو اوریدلو شوق لرئ، یا هم غواړئ، د لوی ناول کیسه په لسو دقیقو کې واورئ، نو زما لاندنی یوټیوب چینل درسره تعقیب کړئ.

انشاالله پدې چینل کې به زه تاسې ته د هر ناول مقصد راټولوم، او تر تاسې به یې درسوم.

تر څو تاسې وکولای شئ، په لږ وخت کې د ډیرو ناولونو کیسې واورئ.

لاندنی چینل درسره ضرور تعقیب کړئ، او له ویډیو ګانو یې خوند واخلئ.

مننه.

https://youtube.com/@muramradiohd

(c) ketabton.com: The Digital Library


## خبرتیا:

**سادات انلاین اکاډمي:**

**دغه اکاډمي چې ما سیدادریس سادات جوړه کړې، که چیرې انلاین زده کړو ته اړتیا لرئ.**

**نو موږ یې درته د ګوګل میټ له لارې وړاندې کوو.**

**په دغه اکاډمۍ کې د یوټیوب زده کړه، د انګلیسي زده کړه او د قران عظیم شان برخو تدریس کیږي.**

**که چیرې شایقین یاست، نو له ادارې سره یې په لاندې شماره اړیکه نیولای شئ.**

**0779011816**

**نوټ: دغه شماره زما نده، زموږ د ادرې ده.**

(c) ketabton.com: The Digital Library


***

لاسي ساعت مې آوازونه شروع کړل، له خوبه راپاڅېدم، سترګې مې وموښلې، له لږ ځنډ وروسته مې تر سترګو اغزنې کچرې وغورځیدې، ساعت ته مې وکتل، پخپل وخت راپاڅېدلی وم.

پوره درې بجې وې، دا مهال مې وکتل چې سپین سرې مور مې هم راته په دروازه کې ولاړه ده، نه پوهیږم چې چا به راپاڅولې وه.

خو فکر کووم، زما د تګ غم ورسره و،

تشناب ته ولاړم اودس مې وکړ، تر څو په لاره کې د یخو اوبو د اودس ښکار نشو، تر لږ ځنډ وروسته مې خپل اوبنی او وراره هم پاڅول، تر څو هغوي هم د تګ لپاره امادګي ونیسي...

هغوي هم هر یو په وار وار اودس وکړ، زه مې له خپلې مور سره کیناستم، د ټولې ورځې تقسیم اوقات مې ورته تېر کړ، ویل یې ډیر ښه انشاالله خدای به دې پخپل کار کې کامیاب کړي.

یو څه پیسې یې له جېب څخه راوباسلې، ویل یې:

هن دا پیسې واخله زویه په لاره کې به درته پکار شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


له مور څخه مې ځانګړې مننه وکړه، خدای پاماني مې ورسره وکړه، مور درې واړه په دې شین سهار کې پخپل هدف پسې روان شو.

په کوڅه کې خو هیڅ د ریکشې درک نه لګېده، مګر په عمومي سړک کې بیا یو څه ریکشې تېریدې راتېریدې، د پسرلي وړمې خورې شوې وې، خو یخني لا هماغسې زور کې وه، آسمان هم وریځ وو.

په سړکونو کې د کورنیو سپو غپا خته، د هر پلورنځي پلورونکی ویده وو، او خرار یې تر ډېر لرې ځایه ته، ټول انسانان داسې بیده ول، تا به ویل لکه مړه چې دي.

دا مهال مو مخې ته یوه زیړه ریکشه ودرېده، خبره مو ورسره وکړه تر څو مخابراتو چوک ته مو ورسوي، ویل یې پوره سل افغانۍ درځخه اخلم، زموږ هم په زړه کې زور نه وو، بغیر له کومې خبرې ورسره کیناستو، ریکشه روانه شوه.

اوښې ته مې وویل:

قاري صاحب! ګوره داسې موټروان سره به خبره کوې چې په لاره ښه ښایسته ټیپ ولري، ویل یې سمه ده.

هر کله چې هډې ته ورسېدو، نو له ډریور سره مو خبره وکړه پوره په شپږ سوه افغانۍ یې تر کابله رسولو، لدې

(c) ketabton.com: The Digital Library


موټروان سره کرولا وه، د ټیپ پوښتنه مو ورڅخه وکړه، ویل یې چې شته دی، له همدې ډریور سره کیناستو.

په ګاډي کې یې نعت تیار لګېدلی وو، خو زمونږ مقصد وو، چې په ټیپ کې موزیک واورو دا چې هغه وخت مو عمر کم وو، نو ډریور ته مو هیڅ هم ونشول ویلای، بس په ټوله لار کې مو نعتونه واورېدل، د لیارې په منځ کې باران شروع شو.

په ښیښه باندې هر څاڅکی داسې تېریده تا به ویل لکه زما لیدل یې تر ټولو ستر ارمان وو، په هر ځای کې اوبه ډنډ شوې، ډریور په یو ځای کې د لمونځ کولو لپاره ودرید، لمونځ مو وکړ، دا چې باران ډېر تېز وو، نو په ډېر کم وخت کې زیات لوند شوم.

بیرته خپل موټر ته راغلو، دې ښکلي باران راته زما مینه آسیه را په یاد کړه، چې د لیدلو لپاره یې زه کابل ته روان وم.

ژر مې موبایل راوخیست، د آسیه مسیجونو ایډي باندې مې کلیک وکړ، لیکلي یې وو:

سلام جان! چېرته راورسیدې؟

ما ورته ولیکل:

سروبي کې یم،

(c) ketabton.com: The Digital Library


ډریور یوه چونډۍ نصوار واچول، او نعت یې ورو ورو په سندره بدل شو، دا مهال بیا موبایل وشرنګېد، اسیه لیکلي وو، جان پدې واورین موسم کې مې ډیر زیات یادیږې، ما ورته وویل:

څه؟

واورین موسم؟

ویل یې:

هو

ما ویل سمه ده، دا راته ووایه چې چرته به سره ګورو.

ویل یې:

ګل بهار سنټر ته راشه له همدې ځایه به بیا نورو ځایونو ته ولاړ شو.

ما ورته وویل:

سمه ده، موټر چلونکي دا سندره لګولې وه چې وایي:

څو چې درزم درزم دلبره

په ما به لاره کې ماښام شي

په سیند ګډیږم بې ګودره

په ما به لاره کې ماښام شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حالاتو سره برابره سندره وه.

قاري صاحب ته مې وويل:

تاسې کابل کې چيرې ځئ؟

ويل يي مور. کابل کې چکر وهو، دا چې زما دنده وه، نو ماته يې وويل:

ته خپل کار ته ولاړ شه، موږ به چکر ووهو بيا درې ورځې وروسته سره ګورو، ما دوي ته وويل:

زما په ګل بهار سنټر کې لږ څه کار دی، زه هلته هم ځم، قاري صاحب وويل:

هلکه ګوره ګل بهار سنټر کې سوپ هم غاب په دوه سوه افغانۍ دی، حيران شوم چې دا به څه کووم، ما سره په جيب کې ټولې درې زره افغانۍ وې چې شپږ سوه به وس دې ډريور ته ورکوم.

او له هغې خوا څخه کرايه هم وه دا ټوله اونۍ تيروول هم وو، خيال مې نه وو، ورواره مې راغږ. کړل، دا وګوره زيده پاس په غره واوره پرته ده، ما چې له موټرسر وباسه د باران څاڅکي مې په سترګو وموښتل، بيا مې هم وليدل چې د غره په سر واوره شروع ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


زما دا لومړی ځل نه وو، چې واوره مې لیدله، بلکې تر دې د مخه هم ما ډېره لیدلې وه، خو د وراره مې دا لومړی ځل و، چې واوره یې لیدله.

ورو ورو له باران څخه د آسمان ځاځکي په واوره بدل شول، او موږ هم د کابل په ختیځه دروازه د کابل ښار ته ننوتلو، موټر خپل تم ځای ته ورسېد، او موږ سره جلا شو.

ما یواځې ښار ته یو موټر کرایه کړ، او روان شوم، دا موټروان ښه د اکاړې سړی وو، تر ښاره مو ښه ګپ شپ ولګولو، په ښار کې د ګل بهار سنټر و مخې ته کېوتم، د دې اپارتمان مخې ته څو پولیس ولاړ ول،او هر کس یې تالاشي کاوه.

ما هم تالاشي ورکړه او ور ننوتم، زړه نا زړه هم وم، ځکه دا مې لومړی ځل و، چې د خپلې ملګرې اسیه سره مې لیدل، اسیه ته مې زنګ وواهه، ویل یې چې لیفټ ته ننوزه او آخري منزل ته راشه، همداسې مې وکړل، لیفټ تر اخیري منزله راوخېجولم.

آخیري منزل کې راته ښکلې آسیه ولاړه وه، له هغې سره یو ځای په لیفټ کې تر اخیري منزله راکیوتم.

بیا نو یو څه ماهیان مو راوغوښتل پوره پیسې یې یو نیم زر افغانۍ شوې، ما جیب ته لاس کړ، خو اسیه زما لاس ونیو،

(c) ketabton.com: The Digital Library


پیسې یې له خپل بیګ څخه راوباسلې او ولاړ نفر ته یې ورکړې.

ما د  ورکولو ډیر ټینګار وکړ، خو ویې نه منله اخر ترې زه روان شوم، له لاس څخه یې ونیوم، او راته یې وویل:

ته ولې نه پوهیږې جان!

ما سره پیسې شته کنه زه به پرې څه وکم ها، ما ورته وویل:

زه یو ننګرهارى ځوان یم، او  هیڅکله هم داسې کار نشم زغملاى، زه بى غیرته نه یم چې خپله خرچه  پخپلې مینه باندې ورکړم.

له لاس څخه یې ونیوم، بیا یې سر  زما په ګونډو کیښود  او ویې ویل:

جان!

ته زما ژوند، ساه، وجود، زړه بلکې هر څه یې، که چیرې تاته زه ګرانه یم، نو دا واوره چې له ما سره به یو ځاى کې هم ځان نه تاواني کوې.

ته پوه شوې؟

ماورته وویل:

نا!

(c) ketabton.com: The Digital Library


بیا یې وویل: خیر دی زړه مې، ځان دې مه تاواني کوه، زه ستا په تاوان ډېر زیاته خفه کیږم.

خېر دی کنه جان!

ما تندی بړوس ونیو، هغې زما پر اوږه لاس کیښود،

تر لاس یې ونیولم او روان یې کړم، ویل یې که چیرې ته داسې خفه یې نو زما د دې ورځې خوشحالي ټوله له منځه ځي.

ته پوه شوې؟

ما څه ځواب ورنکړ.

بیا یې وویل:

جان خیر دی کنه خوشحاله شه، رازه چې کوم بل ځای ته د چکر لپاره ولاړ شو،

بس بله چاره نه وه موټر کې کیناستو، ماته خو کابل کې د چکر ځایونه هېڅ معلوم نه وو، خو دا ښه وه چې اسیه ته د چکر هر ځای معلوم وو، ډریور ته یې وویل، چې تر څو قرغې ته مو بوزي.

دا موټر مو شخصي نیولی وو، زما او د آسیه ښځه بغیر نور پکې هیڅوک هم نه وو، آسیه به همدا ماته ډېر ډېر راکتل، ما ور څخه ځان خفه نیولی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه ضمیر مې دا هېڅکله هم نه منله، چې یوه انجلۍ دې زما پر ځای یو هټیوال ته پیسې ورکړي.

نه پوهېږم دا مې د ځوانۍ بد عادت وو، که ښه خو فیصله یې درنو اورېدونکو ته پرېږدم.

په هر حال کله به آسیه راڅخه لاسونه چاپېر کړل، کله به یې راڅخه غوږ کش کړ، او کله به یې هم راباندې د ناز په سترګو د باڼوګانو غشي ورول، زما لومړی وار نه وو چې د آسیه سره مې لیدل، بلکې تر دې وړاندې هم ورسره څو ځله مخامخ شوی وم.

خو هغه وخت مې پوهنتون کې لیدلې وه.

مخکنۍ کیسې خو ډېرې اوږدې دي، مګر که وروګرځو، نو زما د ژوند خوندورې شېبې به یو ځل بیا را تازه شي.

زه به یو ځل بیا د خیال په ټال کې تر ډیر وخت وروسته د آسیه سره د کابل په پوهنتون کې د ځوانۍ خوشحاله شیبې تیرې کړم.

او یو دوه ګړۍ به د خپل ژوند څخه ډېر زیات خوند واخلم.

د ښوونځي په دوران کې مې تر ټولو ستر آرمان دا وو چې یو تکړه پیلوټ جوړ شم، مګر هر کله چې د ښونځي څخه فارغ شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


نو پوه شوم، چې په داسې مملکت کې ژوند کووم، چې هيڅ انسان هم پکې د خپلې خوښې مطابق شخص نشي جوړېدای، په ډېرو زياتو ځايونو وګرځېدم.

سپين ږيري پلار به مې هم د کراچۍ چلولو پر مهال د تعليم يافته اشخاصو نه داسې پښتنې کولې، چې په افغانستان کې ځوک پيلوټې ويلای شي.

او کنه؟

تر ډېرو خواريو او زحمتونو وروسته دې نتيجې ته ورسېدم، چې په افغانستان کې هېڅ بن آدم د خپلې خوښې هنر مسلک او علم نشي حاصلولای.

ځکه چې دې وطن ته په هيڅ ډګر کې کار ندی شوی، او بايد چې کار ورته وشي.

هماغه وو، چې د خپل لياقت سره مې سم طب پوهنځي ته د کاميابېدو ملا وتړله، تر ډيرې خوارۍ وروسته مې پر ځان دومره باور راغی چې انشا الله په ټول افغانستان کې را څخه ځوک د کانکور امتحان جګه نمره نشي وړلای، د اماده ګۍ د استاذانو ټوله توجو ماته وه.

او ماته به يې په ورځ کې پوره لس ساعته درس راکاوه، تر ځو لوړه نمره يوسم، ما به هره ورځ شپاړلس ساعته درس

(c) ketabton.com: The Digital Library


وایه او شپږ ساعته به مې خوب کاوه او نور دوه ساعتونه د ډوډۍ خوړلو همداسې د ورزش او خبرو کولو لپاره وو.

تر یو څه وخت وروسته د کانکور امتحان راورسېد، ما امتحان ورکړ، زما پارچه کې داسې سوال نه وو شکر، چې زه دې پرې مطمین ونه اوسم، کور ته راغلم.

او تر ډيرې خوارۍ وروسته مې یو څه دمه وکړه، داسې وخت وقعاً چې ډېر خوند لري، زه په ځان سل سلنه باوري وم، چې انشا الله د ټول افغانستان عمومي اول نمره یم.

پدې ورځ چې مې پلار له کار څخه کور ته راغی، د امتحان جریان مې ورته تېر کړ، الله تعالی دې زما پلار او د ټولو ورونو والدینو ته جنتونه ورکړي، کوم خوند چې د هغه وخت په قید کې وو، د دې وخت په زر ځله آزادۍ کې نشته.

پلار مې ډېر زیات خوشحاله شو، زما مور ته یې وویل:

د خیبر مورې!

وه د خیبر مورې! راشه ځوی دې تر ډېر وخت وروسته له درسونو څخه فارغه شوی دی، او پارچه یې هم ډېره عالي حل کړې ده، ته دې د ځوی سره کینه زه ځم تر څو نن مې د ځوی په خوشحالۍ کې دربانډې یو څه خواږه وخورم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


پلار مې ولاړ او پدې ورځ يې راباندې د غټ مال ځيګر وخوړ، د هغه ځيګر خوند! واه! اوس چې هم يې رایاد کړم.

په خوله کې مې نیاړې راډنډ شي، او چې تیرې يې کړم، لکه د خپلې مورکۍ د لاس خواړه مې خوړلي وي، داسې خوند کوي.

کاش چې زه اوس هم لکه د پخوا په څېر هیڅ وای، زما زړه ابی او سپین ږیری بابا ژوندي وای، او په هماغه رقم ژوند وای، بس د قسمت فیصلې دي نو ژوند آخر پای مومي او موږ به هم یوه ورځ ولاړ شو.

دا ورځ تېره شوه، زموږ دکانکور نتایج پوره تر شپږو میاشتو وروسته راغلل، پلار مې راته د غریبۍ یو زړو موبایل رانیولی وو، ویل يې هله ځویه نمرې دې وګوره چې څه ته کامیاب شوی يي؟

ما خپله شماره و لینک ته واچوله په لومړي ځل هیڅ هم رانغلل، په دوهم ځل هم رانغی، په دریم ځل سره يې مخامخ زما نمرې راواړولې.

چو ومې کتل تندی مې ګونځې شو، پلار مې راته حیران شو، ویل يې:

ولې خیبره ځویه!

(c) ketabton.com: The Digital Library


 څه شوي دي، ما ورته وویل:

ولا بابا زه په ټول افغانستان کې څه چې په خپل ننګرهار کې هم لومړی نه یم راغلی، بابا مې وویل:

ته دا پرېږده ځویه دا راته ووایه چې څه ته کامیاب شو یي؟

ابا طب ته کامیاب شوی یم!

خو په نمرو کې راسره درغلي شوې ده، زه نه پوهېږم چې زه ولې په ټول ننګرهار کې دوهمه درجه راغلم.

خو دومره پوهېږم چې سوالونه مې ټول سم حل کړي وو.

دا خبره همدلته پرېدم.

راځم پوهنتون د آسیه سره لومړۍ لیدنه او خوندور ژوند ته!

زه یې د کابل طب پوهنځي ته ورکړی وم، او پوره تر دیارلسو ورځو وروسته پوهنتون شروع کېده.

دا وخت زموږ د ژوند حالات هم ښه شوي وو، ځکه چې پلار ته مې په کومه خارجي موسسه کې د ګارډ دنده ورکړل شوې وه.

او همدا ډول ماته هم د پلار خارجي موسسې د ژباړې په مقابل کې یو څه پیسې راکولې، چې په واټساپ کې به مې ژباړه ورلیږله، زموږ د پوهنتون د شروع کېدو موده هم پوره شوه، او د همدې ورځې په سبا زموږ پوهنتون شروع کېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا شپه هم تېره شوه، په سبا يې ما د خپلې کورنۍ له غړو سره خدای پاماني وکړه او د کابل هډې سړک ته راووتم.

ډېر ژر ورورسېدم، ډېرو ډرېورانو چغې وهلې، له يوه ډرېور سره مې تبه ولګېده، له خويه راته ډېر ښه و ايسېده.

سور پلنکوچ يې درلود، د ننګرهار ګرمۍ هم ځانته يو څه ويل، د ګاډي په اخري څوکۍ کې کښېناستم.

ډريور چغې وهلې خو نور کومه سورلۍ نه وه، د سهار خړه وه، ماته خوب راغی.

په آرامهپه همدغه ځای بیده شوم، عجب خوب وو، سترګې مې ورغلې وې، پر ځان نه وم پوه شوی.

يو وخت مې يو خوړ آواز تر غوږه شو، سترګې مې پرانيستلې، د ښيښې څخه يو ماشوم سر راننباسلی وو.

تور مخ يې سخت وډار کړم، ويل يې اوبه اخلې؟

يو بوتل اوبه مې ور څخه واخيستلې، ما اوبه څښلې چې ښې خواته مې وليدل، د اوبو بوتل را څخه وغورځېد.

ژر مې وچت کړ، په خوا کې مې يوه ښکلې انجلۍ چې تورو بانه ګانو يې زما په زړه بار بار حملې کولې، ناسته وه.

د هغې شنې جامې پر تن وې، او د غومبورو لارو يې زما نظر بلې خواته نه پرېښود.

(c) ketabton.com: The Digital Library


هک حیران شوم، ما خپلې ټولې خپلوانې انجونې لیدلې وې.

ما خپلې ګاونډیانې هم لیدلې وې، ما ډیرې زیاتې انجونې لیدلې وې.

خو دومره خایست ما پخپل ژوند لا نه وو لیدلی، دا انجلۍ مې له زړه نه خوښه شوه، خلاصه دا چې د مینې په دریاب ور ګډ شوم.

پوره تر نیم ساعته پورې خو ما او هغې صرف له منظرو خوند اخیسته، او هېڅ خبره مو نشوه کولای، خو هر وخت چې سروبي ته راورسېدو، نو ډرېور وویل:

کیوزۍ موټر مینځو، او هم تیل ور اچوو.

موږ ټول کیوتو، زه ولاړم لږ څه تروه کبان سره د دوو ډوډیو مې راوخیستل، دوه ډوډۍ مې ځکه راوخیستې چې د شپې مې هم څه نه وو خوړلي او ډیر زیات وږی وم.

د کبانو والا په تروو کبانو شین نارنج وزبیښه، بیا یې اغبار په پلاستیک کې واچاوه، د انجلۍ یخنې کېده، ډریور ژر ژر خپل کار ختم کړ.

او موږ یو ځل بیا و خپلو څوکیو ته ورغلو، ما کباب پرانیسته، د کباب بوي خوندور وو، بغیر له ځنډه مې په خوراک شروع وکړه، یو څه خو مې ډېر په خوند خوند

(c) ketabton.com: The Digital Library


وخوړ، خو چې پام مې شو، انجلۍ راته داسې کتل چې په سترګو کې يې د غوښتلو غوښتنه کوله.

د يو کب د ملا تير مې ورکړ، هغه هم ورته لګيا شوه، يوه ډوډۍ ما وخوړه، او يوه هغې وخوړه، ما ورڅخه په ويريدلي انداز وپوښتل:

تاسې هم لکه کابل پوهنتون ته روان ياست؟

ويې ويل:

نه

بيا مې وويل:

سمه ده.

په آسمان کې درزونه جوړ شول، او باران شروع شو.

سور پلنکوچ له ټولو موټرو څخه په تيز رفتار کې روان وو،

انجلۍ وويل:

تاسې ولې پوښتنه وکړه، چې آيا تاسې کابل پوهنتون ته روان ياست.

ما ورته وويل:

ښښنه غواړم، ما ويل که چيرې داسې چپ کينو نو دا مزل به ډير سخت شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ویل يي:

سمه ده.

زه درته وایم:

زه پخپل ژوند کې یوه مور لرم، او د ننګرهار یم.

خو اوس مهال کابل کې اوسېږو، زموږ په ننګرهار کې لږه څه ځمکه وه، ما ویل چې هغه خرڅه کړم.

او د مور تداوي مې پرې وکړم، خو هغه ځمکه راڅخه زما تره په زور نیولې ده.

هغه وايي، که چیرې ته خپله ځمکه غواړې، باید زما له زوی سره واده وکړې، خو د هغې زوی یو نا لوسته او جاهل انسان دی، زه د هغه له زوی سره ژوند نشم تیرولای، خو له بلې خوا مې مې مور درملنې ته اړتیا لري.

سترګې يې له دردوونکو اوښکو ډکې شوې، ما ورته وویل:

ستا د مور په درملنه څومره خرچه راځي؟ ویل يي دوه لکه افغانۍ!

ما ورته بیا وویل:

که چیرې زه درته ووایم، چې دا کومک به درسره زه وکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


نو ځومره به خوشحاله شې؟

ویل یې:

که چیرې داسې وشي، زه مې له خپل ژوند هم تېرېږم،

خو داسې ټوکې راسره ډېرو کړې دي.

ما ورته وویل:

زه ټوکو والا نه یم.

سمه ده.

ما او تا دواړه به ښار ته ولاړ شو او پیسې به درکړم.

ویل یې:

سمه ده، وبه ګورم نو!

زما او د هغې تر منځ لدې خبرو وروسته چوپتیا خوره شوه،
خو ما د چوپتیا دیوالونه ونړول، ورته مې وویل:

ستاسې نوم څه دی؟

ویل یې:

داسې مرسته مې نده پکار چې زما عزت ته پکې تاوان
پیښېږي.

ما ورته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library


نه نه خدای دې نکړي.

ما خو هڅې پوښتنه وکړه، زه له تاسې سره مرسته ستاسې د بې وزلۍ لامله کووم.

ویل یې:

سمه ده، بیا نو داسې پوښتنې مکوۍ.

ما وویل:

سمه ده.

انجلۍ چپ شوه.

ما هم په غوږونو کې ګوشکیانې ورکړې، او د مینې په رنګینو ټالونو کې خوب یوړم.

یو وخت مې چا لاس وخوځاوه، ومې کتل هماغه انجلۍ وه.

یو سوړ اسویلی مې وکېښ، له انجلۍ سره یو ځای راکیوتم.

ډریور ته مې کرایه ورکړه، بیا مې تر ښاره یو ځانګړی موټر کرایه کړ.

د کابل هغه کورونه چې رنګونو یې ښکلا دوه چنده کړې وه.

بیل خوند درلود.

د ډریورانو شور، د انسانانو ګڼ والی، او د ټیکسیانو بوی د کابل له لویو ځانګړنو څخه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


انجلۍ راته وویل:

خا تاسې خو زما د نوم پوښتنه کوله، لومړی تاسې ووایي چې ستاسې نوم څه دی؟

ما ورته وویل:

زما نوم خیبر قلندرزی دی.

د ننګرهار یم، او په خپل کلي خېوه کې اوسم.

او تاسې؟

ویل یې:

زه عایشه شینوارې یم.

تاسې مه خفه کیږۍ، ځکه ما چې د هر چا نه د کومک غوښتنه کړې.

نو لومړی یې خپل خواهشات را مخته کړې.

ما له خدایه ستاسې په څېر صادقه انسان غوښته، تر څو بې له کوم غرضه راسره مرسته وکړي.

ورځخه مې مننه وکړه.

د کابل په ښار کې مې پوره دوه لکه افغانۍ ورکړې.

انجلۍ راته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library


رازه چې یو ځل زموږ کور ته ولاړ شو، هلته به یوه پیاله نیم چای وڅښې بیا به ځې.

ما ډېر ټینګار وکړ، چې زه مې خپل پوهنتون ته ځم.

خو هغې پرینښودم، او له ځانه سره یې خپل کور ته روان کړم.

له ډیر مزل وروسته یوه تنګه کوڅه راغله، انجلۍ وویل په دغه کوڅه کې زموږ کور دی.

دواړه دې کوڅې ته ننوتو.

او د اخري دروازې ور یې وډباوه.

ورته مې وویل:

تا خو ویل چې زه د ځان او مور څخه ما سوا بل څوک نلرم کنه.

ویل یې:

یو څه ماشومان د ګاونډیانو رازي، هغوي دروازه خلاصوي.

یو څه انتظار مو وکړ، خو دروازه خلاصه نشوه، زما زړه کې هم رنګ رنګ فکرونه تاوېدل.

یو ځل خو مې له ځانه سره وویل، چې رازه یاره ته څه کوې هڅې د پردي کور ومخې ته ولاړ یې!

(c) ketabton.com: The Digital Library


خو بیا مې وویل:

اوس راغلی یم.

په همدې کې دروازه خلاصه شوه.

درې څلور ماشومان له کور څخه راووتل، جامې يې خيرنې وې.

ویل يې:

رازئ، مور ورننوتو.

خو د دواړو دروازو تر شا غله ولاړ وو.

او انجلۍ پرې زما تر خبرېدو مخکې زه خرڅ کړی وم.

دروازه يې بنده کړه، او نور يې راته د ټوپک اخري برخه ونیوله.

بې حده زيات يې ووهلم.

دومره يې ووهلم چې له ملا څخه مې وينو دارې وکړې.

ما د وهلو پر مهال ولیدل، چې هغې انجلۍ ته يي مالک وويل چې څه دې ورنه اخيستي دي.

او کنه؟

انجلۍ ورته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library


نه، څه ورسره نه وو چې ورڅخه اخیستی مې وای.

دا زما د ژوند تر ټولو لومړی ټکر وو، دې خلکو زه له ځانه سره پوره اته ورځې وساتلم.

او زما په سر یې زما له پلار څخه پوره یو میلیون افغانۍ واخیستې.

د دې پیښې څخه وروسته زه مې پلار پخپل لاس پوهنتون ته بوتلم.

او ویل یې چې لدې ځایه راونه وځې، زما د پوهنتون دورې خوندورې ورځې شروع شوې.

زموږ د طب پوهنځي ټول استاذان زما سره د شوې پیښې څخه خبر وو.

او هره ورځ به یې محصلینو انجونو او هلکانو ته زما مثال ورکاوه، چې داسې انجونې مو چیرته دوکه نکړي.

کابل وو نو، د ټول افغانستان مرکز وو، د هر ولایت خلک ورته ځي، راځي.

زموږ د طب سخت درسونه شروع شول، هغه درسونه چې بیخي زیات سخت وو.

د څو ورځو تر تېرېدو را وروسته مې ولیدل، چې هاغه غله انجلۍ چې عایشه شینوارې نومېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


او په لومړي ځل یي زه دوکه کړی وم، زمونږ پوهنتون ته راغلې وه، او زما پوښتنه یي کوله.

ما ترې ځان پټ کړ، او ورنغلم، خو استاذان راپسې اخر راغلل، مجبور شوم ورغلم، په مات زړه وروان وم.

د انجلۍ په سترګو کې راته یو ډول پښیماني ښکاره شوه، خو زړه مې نه غوښتل چې خبرې ورسره وکړم.

اخر انجلۍ هم راته وویل:

که چیرې ته له ما سره خبرې نکوې نو مه یي کوه، دادی زه درنه ولاړم.

خو دا په یاد ساته، چې ما هغه پخوانی ژوند پرېښود، غواړم یوه ښه میرمن شم.

ستا په څېر پرهیز ګاره او د خپل خواهش وژونکي انسان مې له خدایه په سوالونو غوښته.

خیر زه ځم، خو که چرته دې راباندې رحم راغی نو دغې نمبر ته ضرور زنګ راووهه.

په کاغذ لیکل شوی نمبر مې خپل جیب ته واچاوه.

خپل اطاق ته راغلم، یو ځل بیا مې د خپلې بربادۍ په اړه سوچ واهه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


سر مې دواړو لاسونو ته تکیه کړ، داسې نیم ساعت مې چرت وواهه، خو هېڅ نتیجه هم لاسته رانغله.

آخر مې خواکې ناست ملګری چې درس یې وایه، په ملا وټېپولم، سر مې له خپلو لاسونو څخه راپورته کړ.

سمیع وو، ویل یې یاره دا څه سوچونه وهې، ګوره هلکه زما درته پام دی.

نن دې بیخي درس ندی ویلی خا!

ما ورته خپله ټوله کیسه تېره کړه.

ګر چې د لومړۍ کیسې نه زموږ ټول صنفیان خبر وو، مګر دوهمه کیسه باندې لا څوک خبر نه وو.

سمیع راته وویل:

هلکه خیبره زه درته یوه مشوره درکووم.

ما ورته وویل:

وایه.

ویل یې:

ګوره وروره عایشه کاکړ تاته دوکه درکړه، ته یې څومره ودردولې، که زما منې لکه زما په څېر یې پر ځان مینه که او وروسته یې زړه ورمات که.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ما ورته وويل:

نه ياره خدای دې نکړي، ولې تا لکه چاته دوکه هم ورکړې ده.

ويل يي ياره څه به درته ووايم.

تيرېږه د دې کيسو نه!

دا مهال ورته زنګ راغی.

بند يي کړ.

علت مې ور څخه وپوښت.

ويل يي:

يوې انجلۍ مې زړه مات کړی دی، او له ځانه سره مې اراده کړې ده، چې پوره د زرو انجونو زړه به ماتوم.

تر اوسه خو مې د دوه سوه او درې انجونو زړه مات کړی دی.

ااو نور هم لګيا يم.

ما ورته وويل:

ياره دا څه وايي ؟

هغه يوه به ظالمه وه، که دومره تکړه يي نو د همغې نه يي بدله واخله کنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ویل یې:

له هغې خو مې ښه پوره بدله اخیستې.

مګر اوس مې دا یو ډول خوراک دی، تر څو زړونه مات کړم.

د هر چا د زړه په ماتولو سره یو ډول سکون راته حاصلیږي.

سمیع بیخي بلې خواته بوتلم.

له ما څخه يي بیخي پخوانی غم لرې کړ.

ما داسې فکر نه وو کړی، چې داسې خلک به هم په دنیا کې شتون ولري.

خو دا لومړنی انسان وو، له سمیع څخه مې وپوښتل:

هلکه خا دا راته ووایه، چې له لومړنی مینې دې څه ډول غچ واخیست؟

ویل یې:

د غچ اخیستلو څخه د مخه به درته ووایم، چې څه ډول دوکه یې راسره کړې وه!؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


خیبره وروره زه ډېر خرابات هلک وم، په خپلې مینې مې هره ورځ زر دوه زره افغانۍ لګولې، همداسې زر دوه زره به مې ورته د خرچې لپاره هم ورکولې.

مګر زه پدې نه پوهېدم، چې اسیه صرف زما څخه د پیسو شکولو لپاره له ما سره مجازي مینه کوي.

د اسیه ټوله خرچه ما په غاړه اخیستې وه، او بل ماسره پیسې هم خې ډیرې وې، ځکه چې له پلار څخه راته په کوچنیوالي کې ډېر زیات میراث پاتې وو.

او پلار مې په حق رسېدلی وو.

اسیه هم زما له شته وو څخه خبره وه، خو زه پدې نه پوهېدم، چې هغې صرف زما د شته وو لپاره له ماسره مینه کوله.

داسې نه وه، چې زه احمق وم، نه پوهېدم، مګر اسیه به داسې عملونه کول.

چې زما پرې هېڅ د درغلۍ شک نه راته.

یوه ورځ را څخه اسیه پیسې وغوښتې، مګر ما ورنکړې، تر څو معلومه یې کړم، چې اسیه له ما سره مینه لري، او که زما د پیسو سره مینه لري.

په هماغه ورځ راته په ثبوت ورسېده، چې اسیه زما له پیسو سره مینه درلوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


زه يي د يو څو بوينو نوټونو لپاره ډير زيات ورتلم.

ما هم ورته وويل:

لدې ځخه وروسته والاکه راځخه يوه کاسيره وګورې.

هغې وويل:

چې داسې ده، نو والاکه لدې ځخه وروسته ته هم زما څهره وګورې.

هماغه ورځ شوه او اسيه ولاړه، مګر يوه ورځ چې ما د خپلو ملګرو په همکارۍ معلومات وکړل، نو اسيه د بل هلک سره ګرځېده.

ماته هم د غچ اخيستنې ډېره خوندوره موقع په لاس راغله.

ما هغوی دواړه يو ځای ونه کتل، خو دومره پوه شوم، چې هلک او انجلۍ دواړه نن ماذديګر زازي پارک ته د چکر لپاره رازي.

ما همدغې وخت کې يو ملګري ته چې د مکتب د وخت ملګری مې وو زنګ وکړ، ورته مې وويل:

هلکه ځان زازي پارک ته له خپل کانټينر سره راورسوه، دا چې زما دا ملګری به شپه او ورځ په بالاخانو کې ګرځېده، نو دا خبرې ورته عادي وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


له ځانه سره يي ډېر زيات ملګري راوستل، د زازي پارک څخه په مخکې چوک کې ورته ودرېدؤ.

ماته معلومات راغلي ووچې هلک او انجلۍ په سپين ټوډي موټر کې راځي.

چې ټوډي د هماغه هلک ده، ټولو هلکانو پوزکونه ووهل، هر کله چې ټوډي راورسېده، هلک لاسونه پورته کړل، انجلۍ مې ترې راکوزه کړه.

د هلک په سر وسله ايښې وه، ځکه يي هېڅ هم ونه ويل، او زمونږ له وينا سره سم يي موټر چالان کړ او ولاړ، ما سره د ټولو ملګرو مې انجلۍ موټر ته پورته کړه، موټر کې ټول هلکان کښيناستل، ما خپل پوزبند لرې کړ.

اسيه زه وپېژندم، موټر حرکت وکړ، انجلۍ مې له ټولو ملګرو سره يو ځای د موټر څخه په اوږه راکيباسله، او په بالا خانه کې مې پوره په اتيا لکه روپۍ خرڅه کړه.

فکر کووم، له هغې تور دوزخ څخه به تر اوسه هغه نه وي راوتې.

د همغې ورځې وروسته راته دا خوند راکوي، چې د انجونو زړه مات کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


تر اوسه مې د دوه سوه او درې انجونو زړه مات کړی دی، او دا عدد چې کله تر زرو ورسېده بیا بس دی.

ما فکر وکړ!

د آسیه په نوم زموږ یوه خپلوانه هم وه، خو پوره د درې کالو راهیسې نادرکه وه.

ومې ویل چې دا چرته زموږ هاغه خپلوانه آسیه نه وي، ما ورځخه د قوم پوښتنه وکړه، ویل یی چې آسیه هم د دره نور وه.

اوهو بس زړه مې ترکان وخوړل، ځکه چې آسیه زما د ترور لور وه.

هغه زما ډېره خوښه وه، واقعاً هغه زما لومړنۍ او اخرنۍ مینه وه.

او هغه تودې والا هم زه وم، کوم چې په پورتنۍ کیسه کې سمیع ذکر کړ.

په سمیع مې ځان پوه نکړ، خو ویرېدم، پدې چې چېرته ومې نه پیژني.

له سمیع څخه مې د بالا خانې ادرس وغوښت، خو هغې وویل، څنګه دې خوښه ده ته هم لکه ورزې؟

ما ورته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library


هو ورځم یاره له هغې انجلۍ پوښتم چې ولې یی له تاسره خیانت کړی دی.

دا چې زه په آسیه مین وم، مګر زما د مینې په دوران کې آسیه همدې سمیع ته د خنډ ګوته نیولې وه.

زما له سمیع څخه ډېر بد راغلل، خو خوشحاله پدې شوم، چې خپله آسیه مې پیدا کړه.

په ډېر زیات چل او هنر سره مې له سمیع څخه آدرس واخیست، او روان شوم.

یوه مشخص ځای وو، د هغې ځای نوم نشم اخیستی، خو په ډیرې سختۍ سره مې یو سمبوسو والا پیدا کړ.

او ماته سمیع ویلي وو چې همدغه سموسو والا خلکو ته د نوي ځای آدرس ورکوي.

سموسو والا څخه مې په ویریدلي انداز پوښتنه وکړه،

وروره ستاسې آدرس راته چا راکړ، ویل یې :

ستاسې څه پکار وو؟

ما ورته وویل: وروره زه د ننګرهار پوهنتون محصل یم، او ستاسې ادرس راته پوهنتون کې یو شاګرد راکړ.

سموسو والا وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library


د هغه شاګرد نوم څه و.

ما ورته وویل:

سمیع سمیع نومیږي، ویل یې هو سمه ده.

خو هغه بالا خانه اوس له دې ځایه پاکستان ته تللې.

تندي ته مې ټک ورکړ، ځکه دا خو لا سخته شوه، سموسو والا وویل:

خیر مه خفه کیږی، دلته یوه بله نوې جوړه شوې، د هغې آدرس به درکړم.

خو لومړی به زما شیریني راکوی.

ما ورته وویل:

د دې ځای آدرس مې ندی پکار د پاکستان آدرس راوخایه شیرینیانې ډیرې.

ویل یې:

دغه ځای د پنډۍ په راجه بازار کې دی.

سموسو والا ته مې پنځه سوه افغانۍ ورکړې، له ما پوهنتون پاته شو.

او د پاکستان په تکل له پوهنتونه راووتم.

خو نه راسره پاسپورټ وو، او نه کوم بل څه!

(c) ketabton.com: The Digital Library


بیګ مې شاته واچاوه، خپل ټول د ضرورت وړ لوازم مې له پوهنتون څخه راوویستل.

د کندهار د هډې په طرف روان شوم.

په هډه کې یو موټر ولاړ وو، خبره مې ورسره وکړه، دا موټر بیا تکه توره ټوډې وه.

چې شاته پکې درې څلور نور خلک هم ناست و، زه په مخکنۍ چوکۍ کې کیناستم.

موټر حرکت وکړ، له ځانه سره مې یو بوتل اوبه او لږ څه کباب هم راوخیستل، تر غزنې راورسېدو.

تورو وریځو د قهر نارې پیل کړې، د لین موټرو تېز رفتار کاوه.

په موټر کې یو ډول خوشبويې هم د ډریور له خوا پاشل شوې وه، د آسمان تورو وریځو له خپلې غېږې د رحمت څاڅکي راوڅڅول.

د باران څاڅکې ډېر غټ غټ وو، د خلکو ترې ویره کېده.

ډېر ژر د موټر ښیښه له څاڅکو ډکه شوه، ډریور پرې پای پاک کش کړ.

ورځې هم په آرام آرام خپل ځای د شپې تورې تیارې ته پریخود.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د موټر پر ښیښه د ګلۍ غونډوسکي راوګرځېدل، ډریور موټر د یوې ونې لاندې ودراوه.

تر څو باران آرام شي، او بیا روان شو.

هر کله چې باران لږ لږ څه آرام شو، موټر بیا خپل حرکت پیل کړ، ډریور ښه وو تېز وو.

تر کندهاره یې په اوو ساعتو کې راورسولو، لدې موټره راکښوتم.

او د سپین بولدک لیاره مې ونیوله، چې دغه لاره هم د افغانستان له لویو لیارو او سرکونو څخه حسابیږي.

یو ډریور سره تر سپین بولدګ پورې راغلم.

د سپین بولدک په لیاره یې نه پریښودم، ډېرې زارۍ مې ورته وکړې.

خو پرینښودم، آخر کې بېرته ناهیلی ترې راروان شوم، د یوې ویالې تر څنګ فکر مند او غمجن کښناستم.

اصلا ماسره تذکره نه وه، او له کوره تذکره راوړل، خبره ډېره اوږدوي.

نو کور ته مې زنګ وواهه ورته مې وویل: زما تذکره له کوره راولیږۍ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


زه په کندهار کې یو هوټل ته ولاړم، وږی شوی وم، ما ویل چې یو څه به وخورم.

د نصیب پریکړه وه، په همدې هوټل کې مې یو سیجي راواخیسته.

زه په خوړلو لګیا شوم، چې ومې لیدل عایشه کاکړ تصادفاً زما مخې ته کیناسته.

زما ذهن راته وویل: چې دې انجلۍ ته د پوهنتون نه تعقیب کړی یې.

ځکه خو راپسې تر دې ځایه راورسېده.

او زما شک تر یو حده ریښتیا هم وو، ځکه چې عایشې ته سمیع ویلي وو، چې خیبر د سپین بولدک له لارې پېښور ته ځي.

خو دلته پوښتنه داده چې سمیع ته چا وویل؟

چې خیبر د سپین بولدګ له لارې پاکستان ته ځي.

خیر د دې علت به وروسته د وخت سره سم درته induced ووایم، عایشه راته مخامخ کښیناسته.

او لکه د اول ځل په څېر یې راسره دا ځل د سیجي خوړل پیل کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library


زما هم زړه کې زور نه وو، هاغه د سادات خبره وايي په تنهايې کې انسان خپل دښمن هم ځانته تر ټولو نږدې انسان ګڼي.

زه تر اخره غلی وم، او عايشې خبرې کولې، هغې خپله پښيمانتيا د خپلو دردوونکو خبرو په اورولو کې ماته څرګندوله.

خو ما يې خبرو ته هيڅ اهميت نه ورکاوه، آخر يې راته دا هم وويل:

چې زه تا تر پاکستانه رسولای شم.

ما بيا هم ځواب ورنکړ، هغې وويل:

ګوره زه له تاسره مرسته کووم، له تورخم دې اړوم، هاخوا چې ته چيرته ځې ورځه.

دا خبره بې زما لږه څه خوښه شوه، بس بله لار نه وه.

ورسره مې نو ومنله، تر څومې واړوي، ښه په آرامه مو ډوډۍ وخوړله، د ډوډۍ وروسته مې لستوڼي رابډ وهل، تر څو اودس او لمونځ اداء کړم.

د هوټل په آخري حصه کې ځانګړی جوړ شوی تشناب وو، اودس مې پکې وکړ.

عايشې ته مې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې همدې د خوراک په ځای کې راته په طمع شي، او زه جماعت ته د لمونځ اداء کولو لپاره ولاړم.

د مازیګر څلور بجې به وې، له جماعت څخه راووتم، عایشه مخکې شوه، او زه ورپسې شوم.

د یو څه مزل وروسته د پاکستان او افغانستان سرحد ته ورسېدم.

دا ځل پولیس افسر له عایشې څخه زما د کارت او تذکرې پوښتنه وکړه، هغې ورته وویل:

دا زما خاوند دي، دغه زما کارت دی.

عایشې ته یې وویل: ته دې ماسک لرې کړه، شاوخوا خلک ولاړ و، عایشې ماسک ورته لږ څه لرې کړ.

بیرته یې ژر په پوزه کړ، پولیس ورته بیا وویل: پوره یې لرې کړه.

ما ورته وویل: صحیح شو کنه بس دی، یو ځل یې درته وخود کنه.

ویل یې: نه ولاړ شئ یو ځل ځان هاغه ماشین کې سکین کړئ بیا راشئ، ولاړو ځان مو سکین کړ، دا پولیس ډیر خراب انسان وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


په غلته سترګه يې عايشې ته وليدل، عايشه که هر څنګه وه، يوه پښتنه پيغله وه.

او هيڅ پنجابی دا حق نلري، چې يوې پښتنې ته هم په سپک نظر وګوري.

لس مې موټې کړ، تر څو ويې وهم!

خو عايشې مې لاس ونيو.

شکر چې په آرامه واوړيدؤ، ګنې لدې به دلته څومره لويه لانجه جوړيده.

له عايشې سره مې لانجه شروع کړه، چې ولې يې افسر ته وويل چې دا زما خاوند دی.

خو خير لياره مې ورڅخه بېله کړه، په هر حال بنه يې راسره وکړل.

هغه روانه وه، ما پرې د شاخوا نه غږ وکړ:

عايشې!

شاته يې راوکتل، ويل يې څه دي؟

ما ورته په بنده ژبه وويل: زه په پاکستان کې نابلده يم، هڅې نه بيا مې څوک ونيسي.

ويل يې: خا نو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


ما ورته وويل: که کيږي دواړه به يوځای ولاړ شو.

ويې خندل!

او ويې ويل: سمه ده، څه ډول چې ستا خوښه وي، هماغسې به وکړو.

ورځخه مې وپوښتل: خا لدې ځايه اوس په څه کې ځو.

ويې ويل: لدې ځايه بايد په اور ګاډي کې ولاړ شو، ځکه مخکې ډير قوي پوليس ولاړ دي.

او هغوي امکان لري دا ونه مني چې ته زما خاوند يې.

سخته غوصه راغله، او هغې هم زما د غوصې لپاره دا خبرې کولې.

عايشه ولاړه، او د اور ګاډي ټکټ يې راواخيست، زه اول نه اور ګاډي کې کښېناستم.

عايشه د لږ ځنډ وروسته اور ګاډي ته راوخته، زما و مخې ته کښيناسته.

ويې ويل:

ګوره خيبره!

تاسره هېڅوک هم دومره کومک نه کوي.

تر څو چې مينه درسره ونلري، ته ولې نه پوهيږې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ما ورته وویل:

سمه ده، زه په هر څه پوهیږم، خو زه اوس د داسې چا په لټولو پسې روان یم، چې له تا راته ډېر ارزښت لري.

عایشې وویل: سمه ده.

زه او هغه د یوې شیبې لپاره غلي شو، اور ګاډي په کلار کلار حرکت وکړ.

ټنګ او ټونګ یې شروع شو، د پاکستان حکومت د دغه اور ګاډي لار په ډیرو ښکلو ښکلو منظرو تېره کړې ده.

د دې منظرو په لیدلو سره راته د هندي او پښتو فلمونو هاغه ښکلې ښکلې منظرې ذهن ته ودرېدې.

واقعاً د هغې نه کمې نه وې، شنه شنه ځایونه د شنو غرونو پر سره د واورو داسې رابهیدل لکه د یو انسان تر سترګو چې اوښکې بهیږي.

اور ګاډی به په هغه لار ته چې منظرې به یې په تدریج سره لا ښکلې کېدې.

یو وخت کې یو تک شین کلي ته ورسېدؤ، اور ګاډی هملته ودرید، په دې کلي زما خیال دی باران شوی وو.

لا یې هم په آسمان کې وربځ چلیده، د کلي څخه لرې د سړک پرسر څو انجونو منګي په ترخکو کې نیولي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


او رنګارنګ جامو يې د هر انسان نظر ځان خواته کش کاوه.

د چڼچڼو آوازونود کلي ماحول ته بېله ښکلا ورکړې وه.

په پټو کې يې غنم کرلي وو، خو لاشنه وو، داسې شنه چې شين رنګ يې د انسان د سترګو ديد تېزاوه.

د دې کلي ماحول واقعاً خوندور وو، اور ګاډي والا وويل:

چې شپه همدلته په آرامه تېره کړی، سبا به پخير حرکت کوو.

ما او عايشه د کلي ماحول ته داخل شؤ، واقعاً دا يوه ښه کلی وو، د دې کلي خلک ډېر د لوی زړه څښتنان وو، دوی د رنګ نه پنجابيان معلومېدل، خو په ميلمستيا کې يې پښتنو ته ماته ورکړې وه.

دا چې زموږ پښتنو خپل پخوانی دود پريخی مګر ځای يې خالي ندی پاتې، او خبره د انسانيت ده، که پښتون د انسانيت په لور روان وي.

نو د پښتون صفت به کيږي، او که پنجابی د انسانيت په لور روان وي، نو د پنجابي صفت به کيږي.

موږ ته نه غلط رواج اهميت لري، او نه هم بې ديني موږ ته اسلاميت او انسانيت تر ټولو زيات اهميت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library


پدې کلي کې د شپې لپاره راته یوه کوټه راکړل شوه، دا چې ماسره عایشه وه نو ځکه راته یوه خونه ځانګړې شوه.

او مجردو (بې ښځو) سړو پنځه شپږ نفرو ته یوه کوټه ورکړل شوه.

دا کلي د غره پر سر وو، او د غره په لمنه کې پټي وو، موږ لومړی غره ته راختلي وو.

او اوس یې کوټې راکړې، زه په کوټه کې پر کټ باندې څملاستم، او عایشه پر مځکه بیده شوه.

ماته خوب نه راته، د کټ و خوا ته ښیښه وه، پرده مې یې لیرې کړه، چې ومې لیدل، د لاندې کلي هره برخه ورڅخه معلومېده.

د اوبو د غړ تر غره رارسېده، لاندې د غره په لمنه کې څو ساتونکي ولاړ وو.

په دوه یا درې دقیقو کې به یې ویو لوړ غړ باندې ناره کوله، الله اکـــبـــر!

دا د دې لپاره وه، تر څو غله د کلي و خوا ته رانشي، د ساتونکو غړونه به د غره په لمنو کې له یو بل سره لګېده، او انګازې به یې کولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


یو غړ به تر یوې دقیقې پورې بار بار اوریدل کېده، د هر کور له خوا به یو ځل د غنمو په لور رڼا اچول کېده، تر څو غنم وګوري کوم الوتونکی مرغه خو به یې نه خرابوي.

پدې کوټه کې هم د الماریۍ پر سر یو څراغ پروت وو، راومې خیسته.

د کلي په یوې یوې برخې مې وګرځاوه، ډېر خوند یې راکړ، همداسې ویده شوی وم.

یو وخت مې مخ د لمر تودې څانګې وسوځاوه، ژر راپورته شوم، فکر کووم لمونځ قضاء شوی وو.

ژر ژر ولاړم، تر څو اودس وکړم، چې څنګه له کټ څخه راپورته شوم.

عایشه له حمام خانې څخه راووته، ویختان یې لامده وو، سپین غټ مخ او تورو سترګو یې ډیر خوند راکړ.

مګر همدغه وخت کې آسیه را یاده شوه،

آودس مې نیمایې ته رسولی وو، چې د اور ګاډي نفر راغی، او ویل یې چې ځانونه ژر ژر اور ګاډي ته راورسوئ، چې لس دقیقی بعد حرکت کوي.

خپل دوه رکعته مسافرانه لمونځ مې اداء کړ، او د عایشې سره یو ځای تر اور ګاډي راغلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


خپل نیمايي مزل مو یو ځل بیا پیل کړ، اور ګاډی روان شو.

ما له عایشې وپوښتل چې دا اور ګاډی تر کومه ځایه پورې ځي، عایشې وویل: دا اور ګاډی تر کراچۍ پورې ځي.

بیا مې ورڅخه وپوښتل: خا نو د کراچۍ څخه بیا پنډۍ ته کوم موټر نیم ځي او کنه.

ویل یې:

هو هماالته موټرې ولاړې وي، او ځي.

تر دې وروسته د اور ګاډي اشپز راغی، دا چې موږ د سهار ناشته نه وه کړې، ځکه نو باید په اور ګاډي کې مو څه خوړلی وای.

عایشې اور ګاډي والا ته یو څه پیسې ورکړې، ما کې هم هیڅ شیمه نه وه.

چې د پیسو د ورکولو مې ورته ویلی وای، زه په اور ګاډي کې هم ویده وم.

اشپز یو څه راوړل، هغه مو وخوړل او نور زه پاس وختلم، تر څو بیده

کلارې بیده شوم، د سترګو پټولو سره پر ځان بیخي نه یم پوه شوی، تر ډیره وخته بیده وم، یو وخت چې له خوبه راپاڅېدم.

ومې لیدل، چې په مخ مې څو د تورو زلفو تارونه پراته دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکلي ته مې پهلوانه عایشه ویده وه، تر ډېر وخت وروسته د عایشې د روح په په غیاب کې مې د هغې له حسن څخه خوند واخیست.

هغې ته خدای ښېل ډول ښایست ورکړی وو، هغه یوه چاغه انجلۍ وه، چې د مخ په کاسه کې یې کوم هډوکی تش نه معلومېده.

بیا مې هم ځان قابو کړ، او عایشه مې له خوب څخه راویخه کړه.

هغې هم ژرژر خپل جالۍ لرونکی پړونی پر سر کړ، او یو ځای په کراچۍ کې له اور ګاډي څخه راکیوتو.

د کراچۍ ښار ډېر د ګڼې ګوڼې څخه ډک ښار دی، چې ډېر پېښوریان یې د لیدلو ارمان لري.

د عایشې د خبرې سره سم، په خوا کې موټرې ولاړې وې، عایشې په اوردو ژبه له یو ټوډي والا سره خبره وکړه.

ما او هغه یو ځای د پنډۍ او اسلام آباد په لور حرکت وکړ، د هغه ښار

موټر په تیزۍ سره رفتار کاوه، او ښکلې سیمې به یې ژر ژر فنا کولې، د ډېر زیات مزل کولو څخه وروسته تر اسلام آباد راورسېدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


آسلام آباد ډېر لوی ښار دی، ما پدې ښار کې هیڅوک هم نه پیژندل، یو ځای عایشه یو دوکان ته ننوته.

ماته یې وویل:

ته همدلته بیرون راته په طمع شه، زه ژر بېرته راوزم.

پوره یو ساعت ورته په طمع شوم، خو د انجلۍ هیڅ درک ونه لګېد.

آخر مې اراده وکړه، چې زه به ورپسې ورشم، خو دا چې ژبه راته زده نه وه.

د دې جرأت مې هم نشو کولای، بس بله لاره نه وه، دوکان ته ورننوتم دا چې ژبه مې زده نه وه.

نو هټۍ وال هم پوه شو، چې ژبه راته زده نده.

نو انګلیسي یې شروع کړه، دا وخت مې د مکتب د زوړ استاذ راز محمد چې په موږ یې په زور سره انګلیسي زده کړې وه.

ډیره مننه وکړه، ځکه که چیرې مې انګلیسي زده نه وای، اوس به مې څه کول، خیر په هر حال دا دوکاندار مې پوی کړ.

چې داسې یوه انجلۍ راسره وه، دلته دې دوکان ته راننوته، او بیا مې ونه لیده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ویل یې:

ورو‌ره خفه کیږه مه!

دلته زموږ د دوکان دوه دروزاې دي.

امکان لري، په یوه راننوتې وي، او په بله وتې وي.

تندي ته مې ټک ورکړ، چې په رڼو سترګو کې دې انجلۍ یو ځل بیا ماته دوکه راکړه.

خو دا څنګه دوکه وه، چې انجلۍ ولاړه، هیڅ مې پرې ذهن ونه رسېده.

راساً یو موټر ته وختم، او رجا بازار آدرس مې ورکړ.

زه راجا بازار ته ولاړم، هلته یې خلکو ته ټکټونه ورکول، ما د انجونو عکسونه ولیدل.

د آسیه عکس پکې نه معلومېده، خو خیر اخر کې راوواته.

چې د بلې شنبې لپاره یې په پروګرم کې نوم وو.

ما هم یو ټکټ د شنبې ورځې د پروګرام لپاره راواخیست.

همدلته مې یوه خونه کرایه کړه، او تر شنبې ورځې پورې همدلته پاته شوم.

د شنبې ورځې پروګرام وخت هم راغی، او د همدې ورځې نڅېدونکې آسیه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


آسیه خپله نڅا شروع کړه، د آسیه نظر هم یو وخت پر ما ولګېد.

زما لیدو سره سم آسیه بې هوښه شوه، او خلکو دننه یوړه، دا چې پدې ورځ د دې ځای مشر نه وو.

نو هیڅ هم ونشول، په سبا بیا راغلم.

د دې ځای له مشر سره مې د آسیه په باره کې خبرې وکړې.

هغې راختمه کړه.

\\\\\\

شپه په دوه زره افغانۍ !
ماته سخته غوصه راغله، خیر هیڅ مې هم ورته ونه ویل:

ورته مې وویل:

څه وخت راشم.

دا خبرې مې ورسره په انګلیسي کولې.

ویې ویل:

نن شپه هم کولای شې،

سخت زیات د خفګان حالت وو، چې زما آسیه دومره بې قدره شوه، چې ...\

په همدې شپه زه ورغلم، آسیه مې غېږ کې ښه ډیره ونیوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library


او بیا مې لدې ځای څخه د وتلو پلان ونیوه، آسیه ویل:

که چیرې زه لدې ځایه وهم اوزم، څه به وکړم.

آیا ته به له ماسره واده وکړې؟

ما ورته ځواب ورکړ.

هو.

زه لتا سره واده کووم، رازه ته اوس ماسره جنت وطن ته لاړه شه.

هلته به ژوند وکړو.

خوندونه به واخلو.

هماغه وو، چې ما او آسیه د هنداري له طرفه راووتؤ.

او جنت وطن ته راغلؤ.

اوس آسیه خپل کور ته تللې وه.

او زه سره د وراره او اوښي د هغې په طرف وروان یم.

دادی اوس مې ورسره لیده کاته هم وکړل.

پدې شپه زه پوهنتون ته راغلم، خو یو خبر په ټول افغانستان کې خپور شو.

چې یوې انجلۍ ځان اعدام کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ما پرې هيڅ سر ونه خوږاوه، خو صنفیانو به راته هر یو کتل او خفه به بېرته تلل.

دا

انجلۍ.....................................................................

...........

پای

دوهمه برخه ډیر ژر....

(c) ketabton.com: The Digital Library


## خبرتیا:

**سادات انلاین اکاډمي:**

**دغه اکاډمي چې ما سیدادریس سادات جوړه کړې، که چیرې انلاین زده کړو ته اړتیا لرۍ.**

**نو موږ یې درته د ګوګل میټ له لارې وړاندې کوو.**

**په دغه اکاډمۍ کې د یوټیوب زده کړه، د انګلیسي زده کړه او د قران عظیم شان برخو تدریس کیږي.**

**که چیرې شایقین یاست، نو له ادارې سره یې په لاندې شماره اړیکه نیولای شۍ.**

**0779011816**

**نوټ: دغه شماره زما نده، زموږ د ادرې ده.**

(c) ketabton.com: The Digital Library




لیکوال: سید ادریس سادات

که چیرې غواړئ د لویو لویو ناولونو کیسې په لنډ ډول د لسو دقیقو ویډیو کې وګورئ، نو زما لاندې یوټیوب چینل درسره سبسکرایب کړئ.

او راتلونکې هره ویډیو یې په مینه وګورئ.

https://youtube.com/@muramradiohd

(c) ketabton.com: The Digital Library

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library